ښځه دې د دوو ورځو په اندازه سفر نه کوي، پرته له دې چې خاوند يا محرم ورسره وي

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې په دولس غزاګانو کې ګډون کړی دی، فرمايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه څلور (خبرې) اوريدلي دي چې زما خوښې شوي دي هغه فرمايلي دي: «ښځه دې د دوو ورځو په اندازه سفر نه کوي، پرته له دې چې خاوند يا محرم ورسره وي، بل يې دوه روژې منع کړي دي چې يوه يې د کوچني او بله د لوی اختر په ورځو کې روژه نيول دي او دا چې د سهار د لمانځه څخه وروسته لمونځ نشته تر دې چې لمر راوخيژي او د مازديګر له لمانځه څخه وروسته تر دې چې لمر ولويږي، او دا چې له درېيو جوماتونو پرته په سفر مه ځئ چې هغه: مسجد الحرام، بيت المقدس او زما دغه جومات دی».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له څلورو کارونو منعه کړې ده: لومړی: د ښځې له خاوند او محرم پرته د دوو ورځو له سفر څخه ممانعت. او محرم يې هغه خپلوان دي چې دا پرې د تل لپاره حرامه شوې ده، لکه زوی، پلار، وراره، خوره ئې، تره، ماما او داسې نور. دويم: د کوچني او لوی اختر په ورځ د روژې نيولو ممانعت ، برابره ده که مسلمان يې د نذر، نفل او يا کفارې له مخې روژه ونيسي. دريم: د مازديګر له لمانځه وروسته تر لمر پرېوتو پورې د نفلي لمانځه څخه ممانعت، همدا رنګه د سهار له راختلو (له لمانځه) وروسته تر دې چې لمر راوخيژي. څلورم: کوم ځای ته سفر کول او د هغه ځای د حرمت عقيده ساتل، يا دا چې نيک پکې څو برابره کيږي حرام دي پرته لدې دريو جوماتو نو څخه، نو لدې پرته نورو ځايونو ته د لمانځه لپاره د سفر په موخه کډې نه ټړل کيږي، ځکه لدې دريو جوماتونو پرته په نورو ځايونو کې ثواب نه څو چنده کيږي؛ هغه درې جوماتونه مسجد الحرام، نبوي مسجد او د الأقصى جومات دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10603